# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب لومړۍ | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۰مه | دویم کال| ۳۳۸مه گڼه


## سیاسي گوندونه: د سولې لپاره باید هر ډول قرباني ته چمتووالی وښودل شي



۳

**په مذاکراتي ټیم کې څه ډول بدلون؟**
۲ مخ

**د مسکو ناسته؛ ایا بین‌الافغاني خبرې پیلېدونکې دي؟**
۲ مخ

**روباټ او ټکنالوژي؛ دا دندې تر لسو کلونو پورې له منځه ځي**
۳ مخ

## اروپايي ټولنې د افغانستان بانکي سیستم په تور نوملړ کې شامل کړی

د اروپايي ټولنې کمېسیون افغانستان د هغو هېوادونو په تور لېست کې شامل کړی، چې د پیسو سپینولو پر وړاندې په مبارزه کې پاتې راغلی او لا یې هم په بانکي سیستمونو کې د تورو پیسو وېره موجوده ده. دا په داسې حال کې ده چې اروپايي ټولنې تېره میاشت د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ته د یوه مکتوب له لارې خبرداری ورکړی و، چې که د پیسو تطهیر پر وړاندې جدي مبارزه ونه کړي او د پاک بانکي سیستم په تړاو ورسره کره معلومات شریک نه کړي، نو نوم به یې د تل لپاره د دې ټولنې په تور لېست کې پاتې شي. دغې ټولنې ویلي وو: «د پیسو د سپینولو پر وړاندې نه مبارزه د دې لامل کېږي، څو ترهگرۍ او جنایتکارۍ ډلې پیاوړې شي، نو ځکه موږ باید باوري شو، چې د افغانستان په بانکي سیستم کې تورې پیسې نشته».

بلخوا افغانستان بانک د اروپايي ټولنې دغه پرېکړه عجولانه بللې او ویلي یې دي چې د افغانستان مالي سیستم ټولو نړیوالو معیارونو ته ژمن او د نړیوالو معیارونو پر اساس رامنځته شوی دی. د چارو شنونکي وايي، د اروپايي هېوادونو د پیسیو د تطهیر په تور لېست کې د افغانستان شاملېدل به نه یوازې دا چې د افغانستان بانکي سیستم بې اعتباره کړي، بلکې له اروپايي هېوادونو سره د سوداگرۍ په برخه کې موجوده راکړه ورکړه به له ننگونو سره مخ شي. افغانستان، سعودي عربستان، پانامه، نایجریا، ایران، عراق او پاکستان د هغو ۲۳ هېوادونو له ډلې دي، چې تازه یې نومونه د اروپايي ټولنې د مالي برخې کمېسیون په تور لېست کې شامل شوي دي. د یادونې وړ ده چې د اروپايي ټولنې د پارلمان غړو له دغه نوملړه د افغانستان نوم د ایستلو لپاره هڅې پیل کړې دي.

## د پاکستان سفیر: د هند غچ اخیستل به پر افغان سوله هم اغېز وکړي



۵ مخ

## کتاب

۴ مخ

## د اغېزناکو خلکو اووه عادتونه




## د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ۴۵ پرمختیايي پروژو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل



د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ۴۵ پرمختیايي پروژو هوکړه لیکونه د بدخشان، تخار، کندوز او بلخ ولایت له پرمختیايي شوراگانو سره لاسلیک کړل.

دغه وزارت وايي، دغه ۴۵ پرمختیايي پروژې چې د جاپان د نړیوالې همکارۍ ادارې، جایکا په مالي مرسته د افغان-تاجک په سرحدي سیمو کې پلې کېږي، ۸۵ زره کسان به ترې گټه واخلي. د دغه وزارت په خبره، د دغه پروگرام له لارې به د کلیوالو لومړنیو خدمتونو ته لاسرسی اسانه شي او په کلیو کې به شته زېربناوې لکه د صنعت، زراعت او تولیداتو برخې وده وکړي.

په ورته وخت کې بیا په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د پرمختیايي ادارې (یو. این. ډي. پي) استازي ویلي چې دا پروژې به د خلکو په اقتصاد کې مثبت بدلون راولي او دوی به ترې کلکه څارنه کوي.

## شورای ملی: ادامۀ اختلافات سیاسیون در مورد صلح کشور را به بحران می‌برد



پس از آن که زلمی خلیل‌زاد از افغان‌ها خواست تا در موضوع صلح اختلافات را کنار گذارند، هیئت اداری شورای ملی می‌گوید که ادامه اختلافات میان سیاسیون روند صلح را با چالش روبه‌رو می‌سازد.

محمدآصف صدیقی معاون دوم مشرانو جرگه تأیید می‌کند که میان برخی از احزاب و سیاسیون افغان در موضوع صلح اختلاف وجود دارد، اما وی از کسی یا گروهی در این زمینه نام نمی‌برد.

آقای صدیقی دیروز به رادیو آزادی گفته است، چهره‌ها و گروه‌های سیاسی که به نحوی با روند جاری صلح مخالفت می‌کنند، به‌گفته وی نمی‌خواهند که صلح در افغانستان تأمین گردد.

وی گفته است: «اگر این اختلافات کنار گذاشته نشود و پروسه صلح را هر کسی که مخالفت بکند در آن صورت این کشور را بار دیگر با بحران مواجه خواهیم ساخت و ملت را آواره و بی‌چاره خواهیم نمود. کسانی که در این مورد مخالفت می‌کنند، در حقیقت نمی‌خواهند که ما یک کشور با ثبات و عاری از جنگ داشته باشیم.»

این سخنان در حالی بیان می‌شوند که زلمی خلیل‌زاد نماینده ویژه وزارت خارجه امریکا برای صلح افغانستان نیز به تازگی از افغان‌ها خواسته که در موضوع صلح اختلافات‌شان را کنار بگذارند.

آقای خلیل‌زاد در این مورد جزئیات بیشتر نداده‌است، اما تأکید کرده که حکومت باید پیش از برگزاری جرگه مشورتی صلح یک هیئت ملی و همه شمول را برای گفت‌وگو با طالبان ایجاد کند.


Heart of Asia Daily
Annual subscription
Individual: 3500AFN
Organizations: 300$

مسیر ورځپاڼه
کلنی گډون
دولتي او شخصي دفترونو ته: ۳۵۰۰؋
بهرنیو سفارتونو او موسسو ته: ۳۰۰$




+93202502100
+93777989696
Heartofasiadaily@gmail.com
Maseerdaily@gmail.com

## دریځ

### په مذاکراتي ټیم کې څه ډول بدلون؟

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له افغان حکومت څخه غوښتي، چې له طالبانو سره د خبرو لپاره نوی، ملي او پراخ مذاکراتي ټیم وټاکي. اصلي غوښتنه دا ده چې د سولې په پروسه کې باید د حکومت، سیاسي ګوندونو، قومونو او مدني ټولنې استازي وي چې دا چاره به د افغان دریځ له پیاوړتیا سره مرسته وکړي. اوسنی ټیم حکومتي دی چې د ولسمشر د دفتر رییس یې مشري کوي او غړي یې هم تر ډېره ناپېژندل شوي، غیر سیاسي او کمزوري خلک دي، چې له وړاندې پرې په کور دننه هم پراخې نیوکې وې. حکومت منلې چې په ټیم کې به بدلون راولي، خو حکومتي بدلون څه دی او د څه ډول بدلون غوښتنه ده؟

د سولې په روانو خبرو کې چې امریکا او طالبان یې پر مخ وړي، د افغان حکومت استازي نشته. په شوو خبرو کې د سیمې هېوادونه هم ور ګډ شول او په دې تړاو وروستی بدلون د مسکو غونډه وه چې طالبانو له ډېرو افغان سیاستوالو سره دوې ورځې پر سوله او د افغانستان پر راتلونکي خبرې وکړې. په دغو ټولو خبرو کې حکومت نه و او طالبان لا هم ټینګار کوي چې له حکومت سره خبرې نه کوي. په مسکو کې سیاستوالو او تر هغه وړاندې امریکا بیا بیا له طالبانو غوښتي چې له افغان دولت سره کېني، خو طالبانو دا خبره رد کړې دي. اوس داسې ښکاري چې ښایي طالبان دا خبره ومني، خو ځینې ګامونه باید واخیستل شي. لومړی بدلون به دا وي چې د حکومت، سیاسي ګوندونو، فعالینو او مدني ټولنې ګډ پلاوی به ټاکل کېږي، چې ښایي رهبري یې هم حکومت ونه کړي. که حکومت یې په رهبرۍ ټینګار کوي، نو طالبان به بیا خبرو ته نه حاضرېږي، خو که مشري یې کوم بل افغان سیاستوال وکړي، خو حکومتي استازي هم پکې وي، نو طالبان به له دغه پلاوي سره ګوري. اوس حکومت غواړي پلاوی بدل کړي، سیاسیون او نور افغانان پکې ور ګډ کړي، خو نه غواړي چې رهبري یې له حکومت څخه واخیستل شي. امریکا او له حکومت څخه د باندې سیاستوال غواړي چې په دغه ټیم کې حکومتي استازي وي، خو مشري به یې حکومتي چارواکي نه کوي. امریکا او ځینې سیاستوال ځکه پر دې ټینګار کوي چې که داسې نه وي، نو طالبان بیا هم له دغه ټیم سره خبرو ته نه حاضرېږي او په پایله کې به د سولې خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ کېږي.

د افغانانو لپاره بیا دا مهمه نه ده چې د افغان پلاوي مشري څوک کوي، بلکې غواړي حکومت، سیاسي ګوندونه، مدني ټولنې او نور فعالین ټول په یوه ټیم کې را ټول شي. دا پلاوی باید یو غږ ولري، د خلکو استازیتوب وکړي، د ملي ګټو او ارزښتونو د ساتلو هڅه وکړي او دغه راز د سولې د پروسې په بریالیتوب کې پوره مرسته وکړي. اوس حکومت ته پکار ده چې پر داسې دریځ ټینګار ونه کړي، چې ستونزې پیدا کړي او د سولې خبرې له ځنډ او خنډ سره مخ کړي.

# د مسکو ناسته؛ ایا بین‌الافغاني خبرې پیلېدونکې دي؟

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

څو ورځې وړاندې (د سلواغې په ۱۶مه او ۱۷ مه) د روسیې په پلازمېنه مسکو کې د طالبانو او ځینو افغان سیاستوالو، جهادي مشرانو او پخوانیو حکومتي چارواکو ترمنځ د افغان سولې په تړاو دوه ورځنۍ ناسته وشوه او په پای کې یې د ګډونوالو له خوا ګډه اعلامیه هم خپره شوه.

د مسکو د ناستې په اړه ډېری سیاستوال په دې اند دي، چې دا ډول ناستې به د ارګ او طالبانو ترمنځ د شته اختلاف د لرې کولو لپاره لاره هواره کړي او د بین‌الافغاني تفاهم په پیاوړي کولو کې به رغنده رول ولوبوي، خو افغان حکومت پر دغه ناسته نیوکې وکړې او ویې ویل چې دا ډول ناستې اجرایوي واک نه لري. که څه هم د امریکا او طالبانو ترمنځ له څو پړاوه مخامخ خبرو اترو او وروسته بیا په مسکو کې د طالبانو او افغان سیاستوالو ترمنځ له ناستې سره د ملي یووالي حکومت مخالفت، د سولې په تړاو د حکومت پر نیت شکونه هم ډېر کړي دي، خو په بل اړخ کې بیا د ملي یووالي حکومت له لوري د روان کال په کب میاشت کې د لویې مشورتي جرګې را غوښتلو خبره، هغه څه دي چې د سولې د روانو خبرو د بریالي کېدو په اړه یې هیلې پیدا کړې دي.

دلته مو په مسکو کې د افغان سولې په تړاو د طالبانو او افغان سیاستوالو د ناستې، د بین‌الافغاني خبرو پر څرنګوالي او دا چې د افغان سولې پروسه په کوم لوري روانه ده؟ بحث کړی دی.

د مسکو ناسته

د مسکو په دوه ورځنۍ ناسته کې پخواني ولسمشر حامد کرزي، د ولسمشرۍ راتلونکو ټاکنو ته نوماند او د ملي امنیت پخواني سلاکار محمدحنیف اتمر، محمدیونس قانوني، ملا عبدالسلام ضعیف، محمد اسمعیل خان، وکیل احمد متوکل، محمد محقق، عطا محمد نور او نورو مطرحو سیاستوالو، قومي او دیني مشرانو، د عباس ستانکزي په مشرۍ له طالب استازو سره ګډون درلود. ناستې دوې ورځې دوام وکړ او د غونډې په پای کې نهه ماده‌ییز ګډ پرېکړه لیک هم خپور شو او پکې په لاندې مواردو ټولو ګډونوالو توافق وکړ:

لومړی: ګډونوال پر دې باور دي چې د بین‌الافغاني خبرو په پایله کې په افغانستان کې تلپاتې او با عزته سوله شونې ده.

دویم: دا ډول بین‌الافغاني ناستې د سولې په بهیر کې اړینې دي او دوام به کوي.

دریم: د افغان سولې په اړه به د قطر له خبرو ملاتړ کېږي.

څلورم: د سولې د ټینګښت په صورت کې به د افغانستان دفاعي او نور ملي بنسټونه خوندي او اصلاحات به پکې راوستل کېږي.

پنځم: په افغانستان کې د تلپاتې سولې او ثبات لپاره د سیمه‌ییزو او سترو نړیوالو هېوادونو همکاري او ملاتړ اړین بلل کېږي.

شپږم: د نظام په ټولو چارو کې د اسلام له اساساتو پیروي، افغانستان د ټولو ګډ کور بلل، د قوي او ټول شموله مرکزي اسلامي حکومت پر خوندیتوب ټینګار، د ملي یووالي او عدالت تأمینول، په سیمه‌ییزو او نړیوالو منازعو کې د افغانستان بې‌طرفي.

اووم: له هېواده د بهرنیو ځواکونو بشپړ وتل، په افغانستان کې د نورو هېوادونو پر نه لاسوهنې او ګواښونو ټینګار، له افغانستانه نړیوالې ټولنې ته د ګواښ نه متوجه کېدو ډاډ، له اسلامي اصولو سره سم د بیان ازادي، تعلیم، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز فعالیتونه، د هېواد د بیارغولو او پراختیا لپاره د نړیوالو مرستو جلبول.

اتم: د باور جوړونې په موخه د سپین ږیرو، ناروغو او همدارنګه هغو بندیانو را خوشې کولو لپاره هڅې، چې د بند موده یې پوره شوې یا کمه پاتې ده. دغه راز، د ملګرو ملتونو سازمان له تور لېست څخه د طالب مشرانو د نومونو ایستل او د قطر په دوحه کې په رسمي توګه د دفتر پرانیستل.

نهم: د قطر په پلازمېنه دوحه کې په نږدې راتلونکي کې د بین‌الافغاني تفاهم بله ناسته جوړول.

د مسکو ناستې په اړه غبرګونونه

د مسکو ناستې په اړه مختلف غبرګونونه وښودل شول. افغان حکومت پر دغه ناسته نیوکې وکړې او ویې ویل چې دا ډول ناستې یوازې د سولې په تړاو یو علمي بحث کېدای شي او اجرایوي پایلې نه لري. همدارنګه ویل کېږي، چې افغان دولت د مسکو په ناسته کې د ځینو طالب استازو د ګډون له امله د ملګرو ملتونو سازمان ته رسماً شکایت کړی، چې په قطر کې ځینې مېشت طالب چارواکي د ملګرو ملتونو سازمان د بندیزونو په لېست کې دي او په ازادانه توګه سفر نه شي کولی.

په بل اړخ کې د دې ناستې ګډونوالو او پخواني ولسمشر حامد کرزي له دې ناستې خوښي ښودلې او خبریالانو ته یې ویلي: «د افغانانو اساسي غوښتنه سوله ده او په دې ناسته کې د سولې پر راوستلو ټینګار وشو». دغه راز د ولسمشرۍ راتلونکو ټاکنو ته نوماند او د ملي امنیت پخواني سلاکار محمدحنیف اتمر هم رسنیو ته په خبرو کې ویلي: «طالبان پخوا چمتو نه وو چې له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي، خو که د دې ناستې ګډه اعلامیه وګورئ، نو پکې پر بین‌الافغاني خبرو ټینګار شوی». که څه هم د روسیې د بهرنیو چارو وزارت ویلي، چې دا ناسته د دوی له خوا نه ده جوړه شوې، خو ځینې افغانان په دې باور دي چې په روسیه کې د دې ناستې جوړېدل له امریکا سره د روسیې د سیالۍ یوه برخه ده او مسکو غواړي په افغانستان کې خپل تمرکز زیات کړي. په همدې تړاو د مسکو د غونډې پر مهال د افغانستان په ځینو ولایتونو کې د دې ناستې پر ضد لاریونونه هم وشول او خلکو د روسیې ضد شعارونه ورکړل.

د سولې بین‌الافغاني خبرې

د بین‌الافغاني خبرو له لارې په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو په موخه له نږدې یوې لسیزې راهیسې هڅې کېږي. د ملي یووالي حکومت په راتګ سره دا هڅې لا ګړندۍ شوې، په دې دوره کې په مختلفو ډولونو د سیمې او نړۍ په کچه پر طالبانو د فشار راوړلو هڅې وشوې، څو دغه ډله له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته کېني، خو دغو ټولو هڅو لا هم په دې تړاو ملموسه پایله نه ده لرلې.

طالبانو له لومړي سره له امریکا سره پر مخامخ خبرو ټینګار کاوه او بالاخره امریکا هم له دې ډلې سره د سولې مخامخ خبرو اړتیا درک کړه او نږدې څلور میاشتې وړاندې یې زلمی خلیلزاد له طالبانو سره د سولې د خبرو په موخه خپل رسمي استازی معرفي کړ. په تېرو څلورو میاشتو کې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ د امریکایانو او طالب استازو ترمنځ څلور ځله رسمي ناستې وشوې، خو د سولې په نوم د دې روانې پروسې لویه ستونزه دا ده چې افغان دولت ته پکې ځای نه دی ورکړل شوی.

په مسکو کې د طالبانو او مختلفو افغان سیاستوالو ګډه ناسته که څه هم د بین‌الافغاني خبرو لومړنی ګام او د روانې جګړې د پای ته رسېدو په موخه یو مهم فرصت بلل کېږي، خو ظاهراً د بین‌الافغاني خبرو د مفهوم په تړاو د افغان حکومت او طالبانو د تعریفونو ترمنځ توپیر لیدل کېږي او همدې توپیر د سولې په خبرو کې یو ډول بن‌بست رامنځته کړی دی.

طالبان بین‌الافغاني تفاهم د افغانستان له مختلفو سیاسي جریانونو او مشرانو سره خبرې کول بولي، یعنې اوسنی نظام چې په رأس کې یې ولسمشر غني دی، د حکومت په توګه نه مني. په دې اړه زلمي خلیلزاد هم څه موده وړاندې په یوه ټلوېزیوني مرکه کې وویل، چې طالبان نه غواړي چې د ملي یووالي حکومت له مشرانو سره خبرې وکړي، ځکه چې د ده په خبره، له یوې خوا دا حکومت مشروع نه بولي او له بلې خوا وایي، که له دغه حکومت سره خبرې وکړي، نو ګټه یې یوه ځانګړي نوماند ته چې ولسمشر غني دی، رسېږي. له بل پلوه افغان حکومت له بین‌الافغاني خبرو څخه بل تعریف لري او وایي، اوسنی حکومت دې طالبان د یوه مشروع نظام په توګه ومني او را دې شي له حکومت سره دې د سولې خبرې وکړي.

پایله

د افغان سولې په تړاو د طالبانو او مختلفو افغان سیاستوالو ترمنځ په مسکو کې دوه ورځنۍ ناسته په تېرو ۱۸ کلونو کې یوه بې‌سارې ناسته وه؛ ځکه لومړی ځل دی چې په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو لپاره په پراخه کچه بېلابېل افغان لوري، غونډه کوي او د خبرو له لارې د افغان جګړې د پای ته رسېدو په موخه یو ګډ پرېکړه‌لیک خپروي. د افغان سولې په تړاو د امریکا او طالبانو ترمنځ په پر له پسې توګه مخامخ خبرې او د دواړو لورو ترمنځ پر یوه عمومي چوکاټ باندې توافق، دغه راز په لومړي ځل د طالبانو او مختلفو افغان سیاستوالو ترمنځ یوه لویه ناسته، له دې ناستې د ګډونوالو خوښي او د دا ډول ناستو پر دوام ټینګار؛ همدارنګه تازه د افغان سولې په اړه د مشورتي لویې جرګې د راغوښتلو مسئله، ټول هغه موارد دي چې په افغانستان کې یې سولې ته د رسېدو په موخه هیلې زیاتې کړې دي.

پر کومو مادو چې د مسکو ناستې په پرېکړه‌لیک کې توافق شوی، که چېرې په راتلونکي کې په صادقانه توګه رښتیا هم عمل پرې وشي، لرې نه ده چې افغانان به د روانې جګړې په پای ته رسولو کې بریالي شي. دغه راز د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو موضوع هغه څه ګڼلی شو، چې ښایي د مسکو په شان راتلونکې نورې ناستې او د سولې مشورتي جرګه کې د حل لپاره لاره ورته پیدا شي او رامنځته شوی بن‌بست له منځه ولاړ شي.

# د کندهار په دریو ولسوالیو کې سیمه ییزه اردو ځای پر ځای شوې ده

د کندهار په دریو ولسوالیو کې د سیمه ییزې اردو ځواک پر دندو ګومارل شوی، چې د دغو ولسوالیو د اوسېدونکو او چارواکو په خبره، د امنیت په ټینګښت او پوځي عملیاتو کې یې ښه رول لوبولی دی.

ارغنداب، ژېړۍ او پنجوایي په کندهار کې هغه درې ولسوالۍ دي چې د سیمه ییزې اردو درې ټولي پکې ځای پر ځای شوي دي.

په کندهار کې د ملي اردو د ۲۰۵ اتل قول اردو د روزنیز مرکز مشر ډګروال فیض الدین کاکړ پژواک ته ویلي، تر دې مهاله د کندهار او اروزګان لپاره د سیمه ییزې اردو څلور ټولي روزل شوي او تر فراغت وروسته پر دندو ګومارل شوي دي.



هغه زیاته کړې چې د فارغو شوو ټولیو له ډلې درې ټولي د کندهار په ژېړۍ، پنجوایي او ارغنداب ولسوالیو او یو ټولی د اروزګان په ترینکوټ کې ځای پر ځای شوي او خپلې دندې مخ ته وړي.

د ده په خبره، د اروزګان د دریو نورو ولسوالیو دهراوود، چنارتو او ترینکوټ لپاره هم د سیمه ییزې اردو د دریو ټولیو روزنه او ګومارنه په پلان کې ده.

نوموړي ویلي، ملي دفاع وزارت دغه پلان د سیمو د امنیت د لا ښه خوندیتوب لپاره اخیستی او دغه ځواک د سیمې له اوسېدونکو جوړ دی.

هغه زیاته کړې چې د سیمه ییزې اردو غړي، پخواني پولیس او یا هم د اردو غړي دي چې د سیمې د مخورو په ضمانت یې د جلب او جذب چارې تر سره کېږي او د ۲۰۵ اتل قول اردو تر امر لاندې په خپلو سیمو کې فعالیت کوي.

د ده په خبره، سیمه ییزې اردو ته هم د ملي اردو په څېر څلور میاشتنۍ روزنه ورکول کېږي او نږدې عین امتیازات لري.

د ۲۰۵ اتل قول اردو ویاند ډګرمن خواجه یحیی علوي هم ویلي چې تر دې مهاله د کندهار په دریو ولسوالیو او د اروزګان په یوه ولسوالۍ کې سیمه ییزه اردو پر دندو ګومارل شوې ده.

## سیاسي گوندونه: د سولې لپاره باید هر ډول قرباني ته چمتووالی وښودل شي



سیاسي گوندونو او دیني علماوو پرون په یوه غونډه کې پر بین الافغاني مذاکراتو ټینگار وکړ، خو ترڅنگ یې له حکومته وغوښتل چې قربانۍ ته دې تیاری او نرمښت وښیي. پرون له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد لښکرو د وتلو په مناسبت جوړې شوې غونډې ته د حرکت انقلاب اسلامي گوند مسوولانو او د غونډې گډونوالو ویلي، چې جگړې له افغانانو ډېرې قربانۍ اخیستې دي او اوس د دې وخت دی، چې د سولې لپاره هر ډول قربانۍ ته چمتووالی وښودل شي.
په غونډه کې ویناوالو پر دې ټینگار کړی، چې په افغانستان کې یوازې د بین الافغاني لارو پر مټ سوله تامینېدلی شي، نو حکومت او طالبانو ته پکار ده، چې دا ستر حقیقت ومني. د غونډې گډونوال او د حرکت انقلاب اسلامي گوند مشر عبدالحکیم منیب ویلي، افغانان باعزته سوله غواړي او د داسې سولې غوښتونکي دي چې په هېواد کې د ټولو شته ستونزو د حل سبب شي. د منیب په خبره، هغه سوله او مذاکرات چې د افغانانو په گټه دي او کولای شي چې د لسیزو جگړه ختمه کړي، نه دا چې د نورو ستونزو او بې باوریو سبب شي، دوی ترې هرکلی کوي.
بل پلو د حزب اسلامي د رهبري شورا غړی قطب الدین هلال هم وایي، چې په افغانستان کې روانه جگړه د هغو خبرو پر مټ د ختمېدو وړ ده، چې مشري او مالکیت یې د افغانانو په لاس کې وي. هلال وایي، سوله یوازې په خبرو نه راځي، بلکې قربانۍ غواړي او افغان حکومت باید قربانیو ته چمتووالی وښیي. هلال زیاته کړې: ((موږ د جگړو له امله ډېره قرباني ورکړه. اوس د دې وخت دی چې د سولې لپاره قرباني ورکړو. دا حقیقت باید ومنو، چې له قربانۍ او نرمښت پرته په افغانستان کې سوله نه شي تامینېدلی)).
د دوی په خبره، سیاسي احزاب وایي چې ټولې خواوې باید د نظام د جوړښت او اساسي قانون د تعدیل په شمول هرډول قربانۍ ته چمتو شي.
سیاسي گوندونو او دیني علماوو بیا په همدې غونډه کې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د یوه ملي او رښتیني ټیم پر جوړولو هم ټینگار کړی دی. دوی ویلي، حکومت هم باید د بین الافغاني مذاکراتو د پلاوي برخه وگرځي. د احزابو استازي او مشران وایي، سوله ملي پروسه ده، باید یرغمل او انحصار نه شي او له طالبانو سره د خبرو لپاره دې حکومتي افراد، سیاسي گوندونه، سیاستوال او قومي مشران یا د اوسني پلاوي برخه وگرځي او یا دې هم یو بل مشترک او ټولو خواوو ته د منلو وړ ټیم جوړ شي. د سیاسي گوندونو مشران وایي، دوی له ولسمشر د مذاکراتو لپاره د یوه ملي ټیم غوښتنه کړې وه، خو کوم ټیم چې جوړ شوی په خلکو کې نفوذ نه لري او نه هم طالبانو خبرو اترو ته ورسره کېني.
په ورته وخت کې ولسمشرۍ ماڼۍ بیا ویلي، چې د سولې لپاره د یوه ملي ټیم په جوړولو کار روان دی. د رسنیو د راپورونو له مخې امریکا په واضح توگه له افغان حکومته غوښتي، چې د سولې لپاره یو ملي او ټول منلی ټیم جوړ کړي. امریکا غوښتنه کړې چې ژر تر ژره دې دغه ټیم جوړ شي، ځکه د دغه کار لپاره ډېر وخت نشته. تېره ورځ د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي وو، چې افغان حکومت باید د سولې لپاره یو ملي او رښتینی ټیم جوړ کړي، خو دغه ټیم باید ژر جوړ شي، ځکه وخت کم دی.
ارگ بیا ویلي چې دوی د سولې لپاره د یوه ملي ټیم پر جوړولو کار روان کړی دی، خو په دې برخه کې بېړه نه لري. د افغان سولې په اړه دغه څرگندونې داسې مهال کېږي، چې ټاکل شوې د روانې میاشتې په ۲۵مه، د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې بله مهمه غونډه وشي. خلیلزاد هیله ښودلې چې په دې غونډه له طالبانو سره په خبرو کې مهم پرمختگونه رامنځ ته شي.

**د روسیې د مشرانو جرگې غړی:**

## پر افغانستان د شوروي اتحاد برید لویه تېروتنه وه



د روسیې د مشرانو جرگې غړي نیکولای ریژکوف ویلي، چې په ۱۹۷۹ ز کال کې د پخواني شوروي اتحاد دا پرېکړه چې افغانستان ته عسکر واستوي او هغه هېواد اشغال کړي، لویه تېروتنه وه.
نوموړي چې د پخواني شوروي اتحاد په سیستم کې د صدرات پر څوکۍ کار کړی، له فکس خبري اژانس سره په مرکه کې ویلي چې ۳۰ کاله مخکې شرایط باید په سوریه کې له اوسني وضعیت سره پرتله نه شي.
نوموړي ویلي: «افغانستان ته د عسکرو د استولو پرېکړه د پخواني شوروي اتحاد د مشرانو ډېره ناوړه تیوریکه تېروتنه وه».
دا په داسې حال کې ده چې د پخواني شوروي اتحاد په مرکزي کمېټه کې داسې باور موجود و، چې په افغانستان کې د سوسیالېزم لپاره شرایط برابر وو، خو د ریژکوف په خبره، دغه څه روسانو ته په ډېره گرانه بیه تمام شول.
نوموړي دغه راز د افغانستان او سوریې د حالاتو د پرتلې شدید مخالفت هم کړی دی. هغه ویلي: «له افغانستانه د پخواني شوروي ځواکونو د وتلو په ۳۰مه کلیزه کې یوشمېر کسانو هڅه وکړه، چې د افغانستان لپاره د پخواني شوروي پالیسي د سوریې په اړه د اوسنۍ روسیې له هغې سره پرتله کړي، چې اصلاً د مقایسې وړ نه دي».
د ریژکوف په خبره، سوریه او روسیه د تشدد پر ضد د همکارۍ لپاره قانوني او مشروع دلایل لري، د سوریې مشروع ولسمشر له روسیې د مرستې غوښتنه کړې او په سوریه کې د روسیې ماموریت په بشپړ ډول پر دغه قانوني بنسټ ولاړ دی.
د پخواني شوروي اتحاد پوځي ځواکونه په ۱۹۷۹ ز کال کې په افغانستان کې د حاکم کمونېست رژیم، د ملاتړ لپاره دغه هېواد ته راغلل او د مجاهدینو پر وړاندې تر لس کاله جنگ وروسته یې، په ۱۹۸۹ ز کال کې له ماتې خوړلو وروسته اړ شول، چې له دغه هېواده ووځي. د پخواني شوروي د استازو عالي شورا د هغه کال په ډسمبر کې پر افغانستان یرغل، چې نږدې ۱۵ زره روسان او میلیونونه افغانان پکې ووژل شول، له سیاسي او اخلاقي پلوه د غندنې وړ وباله.

**ارگ:**

## ممکن د سولې مرکچي پلاوي په جوړښت کې بدلونونه راشي



ارگ د زلمي خلیلزاد د هغې غوښتنې په اړه چې ویلي یې وو، له وسله والو طالبانو سره دې د خبرو اترو په هدف یو پراخ ملي ټیم رامنځته شي، ویلي چې حکومت چمتو دی څو په دغه ټیم کې لازم بدلونونه راولي.
دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد وړمه ورځ له طلوع سره په مرکه کې ویلي وو، چې د افغان حکومت په مشرۍ د افغانستان د ټولو سیاسي گوندونو څخه دې یو «گډ قوي ملي ټیم» جوړ شي چې په قطر کې د مذاکراتو بل اړخ وي.
د ولسمشرۍ ماڼۍ وياند مرستیال شاه حسین مرتضوي امریکا غږ ته ویلي، چې حکومت د سولې مذاکراتو لپاره یو ۱۲ کسیز مرکچي ټیم مخکې جوړ کړی، چې په هغه کې د بدلونونو د رامنځته کېدو احتمال شته.
هغه ویلي: «کوم څه چې ښاغلي خلیلزاد ویلي، که چېرې داسې وشي، دا ښه خبر ده. حکومت یې هم د اصلاح کولو پلان لري، فعلاً ۱۲ تنه معرفي شوي دي. که اړتیا پیدا شوه امکان لري چې په هیئت کې تغیر راشي.»
مرتضوي د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا د فبرورۍ په ۲۵مه، په دوحه کې د وسله والو طالبانو او افغان حکومت د پلاوي تر احتمالي لیدنې به په دغه ټیم کې بدلونونه راشي، ویلي: «تر هغه وخته که اړتیا وه، په دغه ټیم کې به تغیرات راشي».
په ورته وخت کې زلمي خلیلزاد وړمه ورځ له عبدالرب رسول سیاف سره د لیدنې پرمهال د یو پراخ مذاکراتي ټیم پر رامنځته کولو ټینگار کړی دی.
ټاکل شوې چې د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالتونو ځانگړې استازي زلمي خلیلزاد او طالبانو ترمنځ خبرې پنځه ورځې وروسته په دوحه کې بیا پیل شي.
افغان حکومت هم دغو خبرو ته چمتووالی ښودلی او زیاته کړې یې ده، چې که په دغه غونډه کې د افغان حکومت پلاوي او طالبانو ترمنځ د خبرو داډ ورکړل شي، پلاوی به یې په دغه غونډه کې گډون وکړي.

## پاکستان د هند د احتمالي برید په اړه له ملگرو ملتونو د مرستې غوښتنه کړې ده



د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي له ملگرو ملتونو څخه غوښتي، چې د پلوامه تر برید وروسته د پاکستان او هند ترمنځ د رامنځته شوو اندېښنو په هواري کې مرسته وکړي.
د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي تېره ورځ، د ملگرو ملتونو له سرمنشي انتونیو گوترېش څخه په یو لیک کې غوښتي، چې د هند له خوا پاکستان ته د متوجه گواښ په اړه پاملرنه وکړي.
قریشي په دغه لیک کې ویلي: «په سیمه کې د مخ پر خرابېدونکي امنیتي وضعیت په اړه، چې یو له هغوی د پاکستان پر وړاندې د هند د زور کارولو گواښ دی، دا ډېره مهمه ده او په اړه یې ستاسو توجه غواړو».
نوموړي په دغه لیک کې همدارنگه زیاته کړې چې دا ډېره اړینه ده چې ملگري ملتونه باید د رامنځته شوو اندېښنو په ختمولو کې هڅې وکړي.
د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر، داسې مهال له ملگرو ملتونو څخه د منځگړیتوب غوښتنه کړې چې د تېرې پنجشنې په ورځ د هند تر ولکې لاندې کشمیر سیمه کې، ځانمرگي برید ۴۱ نیمه پوځي هندي سرتېري ووژل، چې په اړه یې په هند کې سخت غبرگونونه راوپارېدل.
تر دغه برید وروسته د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي، خبرداری ورکړ چې په هندي کشمیر کې دغه مرگوني برید ته به سخت ځواب ووایي.
په ورته وخت کې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان له هنده غوښتي، چې که د پلوامه برید په اړه ثبوت لري، له دوی سره یې دې شریک کړي چې پر وړاندې یې اقدام وکړي.
نوموړي خبرداری ورکړی، که هند پر پاکستان برید وکړي، سمدستي به ځواب ورکړي. هغه ویلي، جگړه پیل کول اسان دي، خو ختمول یې بیا د یو سړي کار نه وي. هغه دغه راز ویلي چې د کشمیر مسئله باید د خبرو له لارې هواره شي.
بلخوا د هندي پوځ یو لوی قوماندان دیلن هم ویلي چې د دوی څېړنې ښیي، چې د دغه برید تر شا د پاکستان د استخباراتي اداري لاس و.
که څه هم د دغه برید مسوولیت په پاکستان کې مېشتې جیش محمد ډلې منلی، خو پاکستان ویلي چې په دغه برید کې لاس نه لري.
مودي ویلي چې د کشمیر تر برید وروسته د خبرو وخت تېر شوی او د دې وخت را رسېدلی چې هند په دې اړه عملي گام پورته کړي.
نوموړي ویلي، په دې اړه چوپه خوله پاتې کېدل او هېڅ نه کول ترهگرۍ ته وده ورکوي.

## د کتــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

- ليکوال: دوکتور ډيوډ شوارتز
- ژباړن: ميراحمد ياد

### پنځم څپرکی
### څنګه نوی فکر وکړو؟




تاسي فکر وکړئ چې که د فورډ موټر شرکت رئيس ځان سره ويلي واى چې: (سږ کال مو تر ټولو ښايسته ډيزاين لرونکی موټر جوړ کړ، تر دې نور نه ښه کېږي، نو د څېړنې، پراختيا او ډيزاين څانګې به وتړو.) اوس ووايئ چې په دې شرکت به څه شوي واى؟ دې فکر به ان دومره لوى شرکت هم په لنډ وخت کې منحل کړى وى.

د بريالیو خلکو ژوند هم د بریالیو په څېر، په دې پوښتنو پورې اړه لري چې: (د کار کيفيت څنګه لوړولاى شم؟)، (ښه کار څنګه کولاى شم؟)

انساني فعاليتونه له توغندي جوړولو- تر ماشوم روزلو هېڅ يو هم پوره او بې نيمګړتيا نه وي. دا په دې مانا ده چې د انسان الوت ته ډېره پراخه فضا پرته ده. بريالي خلک په دې راز پوهېږي، له دې امله تل د نويو لارو په لټه وي. دا ياد ساتئ، بريالي خلک له ځانه دا پوښتنه نه کوي چې (زه دا کار کولاى شم که نه؟) هغوى پوهېږي چې کولاى يې شم، ځکه نو له ځانه دا پوښتنه کوي چې: (دا کار څنګه په ښه توګه کولاى شم؟)

زما يوه شاګرد وه، په يوه کار کې يې څلور کاله تجربه لرله او دا څو مياشتې مخکې يې د اوسپنيزو لوښو څلورمه مغازه پرانيسته. لومړنۍ پانګه يې يوازې درې نيم زره ډالره وه، نورو مغازو ورسره سخته سيالي راخيستې وه او دا په دې برخه کې نوې هم وه، نو دې ټولو مسائلو ته په کتو ويلاى شو چې د مغازې پرانيستل يې شهکار عمل و.

د مغازې له پرانيستو څو ورځې وروسته يې مبارکۍ ته ورغلم، په خبرو خبرو کې مې ترې دا هم وپوښتل چې په دې دومره لږ وخت کې يې څنګه دا څلور مغازې پرانيستې؟ ځکه ځينې خلک يوازې د يوې مغازې پرانيستو ته شپه او ورځ په ځان يوه کوي.

هغې راته وويل: (زه ډېر کار کوم، خو په سهار وختي راپاځېدلو او تر ناوخته کار کولو باندې هم څلور مغازې نه جوړېږي. د دې برخې ټول خلک ډېر زيار کاږي، خو بيا هم زه فکر کوم، چې زما د برې تر ټولو لوى لامل به د يوه شخصي پلان عملي کول وي، ما دا پلان د اونيز پرمختګ پلان نوملاى دى.)

پوښتنه مې وکړه: (د اونيز پرمختګ پلان؟ جالب دى ولا ... څنګه يې عملي کوې؟)

ځواب يې راکړ: (خير داسې ډېر لوى کار هم نه دى، خو دا پلان اونۍ په اونۍ د کارونو ښه کولو کې مرسته کوي. زه غواړم چې فکر مې تل په خپلو چارو کې بوخت وي، په دې خاطر مې کار په څلورو برخو وېشلى دى:

1) پيرودونکي
2) کارکوونکي
3) توکي
4) د کار پرمختګ

زه د اونۍ په لړ کې يادابښتونه اخلم او د چارو د ودې لپاره چې کومې مفکورې راځي، هغه ټولې له ځان سره ياداشت کومه.

بيا هره دوشنبه څلور ساعته کېنم، په دې څلورو ساعتونو کې خپل يادابښتونه يو ځل له نظره تېروم او د ګټورو مفکورو عملي کولو ته لارې چارې لټوم.

په دې څلورو ساعتونو کې خپلې چارې ښې دقيقې ارزوم. دا نه وايم چې:(دريغه ډېرو خلکو زما له دوکانه سودا اخيستې واى)، بلکې وايم چې: (ډېر خلک څنګه زما له دوکانه سودا اخيستى شي؟)، (ډېر پيرودونکي څنګه راجذبولاى شم؟)

په خبرو کې يې څو نوښتونو ته هم اشاره وکړه، دې نوښتونو يې په پخوانيو دريو مغازو کې خرڅلاو ډېر لوړ کړى و، لکه: په مغازو کې د توکو سم کېښودل، د خرڅلاو تخنيکونه، چې مغازې ته درې تنه راتلل، نو په دوو به يې سودا خرڅوله، سره د دې چې د سودا اخيستو هېڅ نيت به يې نه و. ځينې پيرودونکي يې د اعتصاب له امله اوزګار وو، په دې خاطر يې هغه خلکو ته پور ورکاوه او په سوړ بازار کې يې بيا د خرڅلاو سيالۍ جوړولې. خبره يې وغځوله: (ما له ځانه پوښتنه وکړه چې: (د خپلو سوداګانو د ښه کولو لپاره څه کولاى شم؟) له دې سره بيا مفکوره هم پيدا کېږي. يوه بېلګه به يې درته ووايم. څلور اونۍ مخکې مې ويل چې ماشومان بايد دوکان ته ډېر راشي، ځکه که مور په مغازه کې د ماشومانو شيان ولرو او ماشومان هغو پسې دننه راشي، نو مور او پلار به يې هم ورسره رانوځي. په دې اړه راسره يو فکر پيدا شو چې: له څلورو تر اتو کلونو د ماشومانو لپاره په الماريو کې بايد نانځکې کېږدم، همداسې مې وکړل، نانځکو لږ ځاى ونيو، ګټه يې هم ښه وه، خو تر ټولو مهمه خبره دا ده چې مغازې ته يې تګ راتګ زيات کړ.

باور وکړئ چې زما د اونيز پرمختګ پلان ګټه وکړه، زياتره وخت حللارې په دې پوښتنه پيدا کوم چې: (کار په ښه ډول څنګه کولاى شم؟) يوه نيمه دوشنبه دې داسې وي چې زه پکې د خپل مالي صورت حساب ښه کولو ته کومه لاره چاره پيدا نه کړم. د بريالي خرڅلاو په اړه مې يوه بله خبره هم زده کړې ده، هر انسان چې کار کوي، دا خبره به ورته ګټوره وي.

ما پوښتنه وکړه: (څه خبره دې زده کړې ده؟)

ويې ويل: (د کار په پيل کې دا مهمه نه ده چې څومره پوهېږي، بلکې مهمه دا ده چې تاسې کله کار پيل کړئ، څومره زده کړه کوئ او څنګه ګټه ترې اخلئ.

لويې برياوې د هغوى په برخه وي چې لوړ معيارونه ټاکي، د ګټې زياتولو لپاره لارې چارې لټول او په لږ مصرف او زيار ډېرې پايلې ترلاسه کول غواړي. ښه پرمختګ هغوى کولاى شي چې وايي: (زه له دې هم ښه کار کولاى شم.)

**دوام لري...**

# د اغېزناکو خلکو اووه عادتونه

◀ اکسوس کتابپلورنځی

(د اغېزناکو خلکو اووه عادتونه) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. د کتاب ليکوال سټيفن کووي دی او پښتو ژباړه يې ميراحمد ياد کړې ده. ياد له دې مخکې پښتو ته د ځلوېښتو په شاوخوا کې کتابونه ژباړلي، چې ډېرو يې د اکسوس کتابپلورنځی د کال تر ټولو د زياتو پلورل شويو کتابونو په ډله کې لومړى ځاى خپل کړى دى. د دغه کتاب پښتو بڼه په ۴۱۵ پاڼو کې د بېلابېلو عنوانونو په درلودو سره، نه يوازې په کاري چاپېريال کې د شخصيت جوړونې او اغېزناکۍ لپاره عملي اصول وړاندې کوي، بلکې هغو کسانو ته هم غوره لارې چارې ښيي، چې په شخصي او ټولنيز ژوند کې خپلو نيکو هيلو ته رسېدل غواړي.

دې نړۍ ته راتګ په هيلو پورې تړلى دى، که يو څوک هيلې ونه لري، مانا دا چې ژوند نه پېژني. ځينې خلک له خپلو هيلو خبر دي او ورته د رسېدو لپاره هڅې کوي، ځينې خو يې بيخي حس کولاى هم نه شي، هغوى چې نه يې شي حس کولاى پر خپل ځاى پرېږده، هغوى چې هيلې يې پېژني او د لاسته راوړلو لپاره يې هڅې کوي هم، ډېر کله له ډېرو هڅو سره سره موخو ته نه شي رسېداى. کېداى شي وپوښتى چې ولې؟

پوهېږى، هغو کسانو يا خپلې موخې سمې نه دي پېژندلې او يا يې ورته د رسېدو لاره سمه نه ده ټاکلې. دا معقوله به مو اورېدلې وي، چې وايي، تر کارکوونکي کارفرما ډېر مهم دى. رښتيا هم چې همداسې ده. موږ کارفرما د انګېزې په نوم پېژنو، کله چې د يو کار په اړه سمه انګېزه ونه لرو، هېڅ ممکنه نه ده چې سم يې سرته ورسوو.

ځينې خلک په دې تمه وي چې ګوندې نور يې د خونې دروازه ور وټکوي، خو په ياد لرى چې دا چاره هېڅکله ممکنه نه ده او نه نور خلک دومره وزګار دي، چې ستاسې غم وخوري. خو دا کتاب ستاسې غم خوري او ستاسې د خونې دروازه ټکوي او دروازې ته له راغلو فرصتونو مو خبروي.

سټيفن کووي په همدغه کتاب درته اووه هغه عادتونه ښودلي چې که په سم ډول يې عملي کړى، له تاسې بيخي يو بېل او نورو ته يو الګو انسان جوړوي. په ډېر کار او سخت زحمت ايستو درته توصيه نه کوي، بلکې په لږ خو دقيق کار درته ډېر ټينګار کوي. د کار کولو يا موخو ته د رسېدو پر لار مو بيا بيا کتنې ته ور بولي او وايي چې د يو کار سرته رسولو لپاره له داسې لارو استفاده وکړئ، چې په کم وخت کې ښه پايله په لاس درکړي.

ډېر به مو ليدلي وي چې له اړتيا پرته پر نورو ډېره تکيه کوي، د نورو خوښي يې د زړه هيله او ارمان وي، ځان ته د نورو لخوا د عزت ورکولو ليونى وي، دوى فکر کوي چې




همدا د ژوند مانا ده او همدا د ژوند خوښي ده، خو اصل کې داسې نه ده. دا کتاب درته وايي، تاسې يوازې هغه وخت د خلکو لخوا د احترام وړ ګرځېدلى شى، چې خپلو موخو ته ورسېږى، خپل کارونه په ښه ډول ترسره کړى، وايي د خپلو کارونو په اړه د نورو خبرو پسې مه ګرځئ، بلکې د کار په ښه کيفيت او خپلو هيلو ته په وار وار په ورنږدې کېدو او تر ټولو ژورو غوټو وهلو ته مو هڅوي.

په ټوله کې دغه کتاب د شخصي بريا، له نورو پر ځان د زيات باور، ښې انګېزې په درلودو او له خپلې ټولې انرژۍ په سمې ګټې اخيستنې تاسې يوه ښه لاره ښيي.

مينه وال کولاى شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لويو کتابپلورنځيو څخه په مناسب قيمت تر لاسه کړي.


## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | ليکوال / ژباړن | بيه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Essential Words for the Toefl 7th | Barorns | ۱۷۰؋ |
| ۲ | Words you need to Know 1100 7th | | ۱۸۰؋ |
| ۳ | words you need to knoww 7tH 1100 | | ۳۵۰؋ |
| ٤ | BARRONS TOEFL IBT 15th Edtion | | ۵۵۰؋ |
| ۵ | راهنمای واژگان ضروری تافل ويرايش هفتم | رضا دانشوری | ۲۰۰؋ |
| ٦ | The Pilgrimage | PAULO COELHO | ۸۰؋ |
| ۷ | The Zahir | | ۱٤۰؋ |
| ۸ | The Alchemist | | ۱۲۰؋ |
| ۹ | Like the Flowing River | | ۸۰؋ |
| ۱۰ | The supreme Gift | | ۱۲۰؋ |
| ۱۱ | Adultery | | ۱۷۰؋ |
| ۱۲ | Hippie | | ۱۷۰؋ |
| ۱۳ | Essentional Grammar In Use 4th | Raymond Murphy | ۱۷۰؋ |
| ۱٤ | Modern Grammar گرامر نوين | ابو القاسم طلوع | ۲۲۰؋ |
| ۱۵ | AND THE MOVNTAINS ECHOED | Khaled Hosseini | ۲۰۰؋ |
| ۱٦ | A THOUSAND SPLENDID SUNS | | ۲۵۰؋ |
| ۱۷ | THE KITE RVNNER | | ۲۵۰؋ |
| ۱۸ | LETS GO 5Edition 1 SB+WB+CD | oxford | ۱۵۰؋ |
| ۱۹ | LETS GO 5Edition 2 SB+WB+CD | | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | LETS GO 5Edition 3 SB+WB+CD | | ۱۵۰؋ |
| ۲۱ | LETS GO 5Edition 4 SB+WB+CD | | ۱۵۰؋ |
| ۲۲ | The Practical Writer with Readings | Edward p. Bailey-Philip A. Powell | ۲۷۰؋ |
| ۲۳ | English Grammar in Use fouth Edition | Raymond murphy | ۲۰۰؋ |
| ۲٤ | Essentional Grammar In Use 4th | | ۱۷۰؋ |
| ۲۵ | Basic grammar in use 4th Edtion | | ۱۵۰؋ |
| ۲٦ | Key Words for Fluency pre-intermediate | George woolard | ۱۲۰؋ |
| ۲۷ | Key Words For Fluency Intermediate | | ۱۵۰؋ |
| ۲۸ | Key Words For Fluency Upper Inter | | ۱٤۰؋ |
| ۲۹ | Living with Honour | Shiv Khera | ۱۵۰؋ |
| ۳۰ | د اغېز ناکو خلکو ۷ عادتونه | ميراحمد ياد | ۲۸۰؋ |

**په خپل کور او کار ځاى کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړيکه ونيسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

همیانی

# روباټ او ټکنالوژي؛ دا دندې تر لسو کلونو پورې له منځه ځي

**بشر درویش**

د ټکنالوژۍ او نورو پرمختګونو له امله ورځ تر بلې نړۍ بدلېږي. دا بدلونونه له یوې خوا د نویو کاري فرصتونو او اسانتیاوو سبب کېږي او له بلې خوا د ځینو کارونو د ختمېدو او نابودۍ زمینه هم برابروي.

دلته به د هغو دندو په اړه معلومات درکړو، چې ویل کېږي تر راتلونکو لسو کلونو پورې نابودېږي او دوام نه کوي. باید یادونه وکړو چې د دغو دندو د کم ارزښته کېدو یا نابودۍ وړاندوینه نړیوالې اقتصادي ټولنې کړې ده. دلته به پر دغو کارونو یا دندو او د هغوی په بې ارزښته کېدو او لاملونو یې بحث وکړو:


**کرنه**

د ارقامو له مخې د کرنیز صنعت میکانېز کېدل او ماشیني کېدل په ټوله کې د دې سبب شوي، چې په دغه دنده کې د انساني ظرفیت د کارولو اړتیا او سلنه ورځ تر بلې راکمه شي.

په دې برخه کې د امریکا متحده ایالتونو مثال د یادونې وړ دی. دغه هېواد په وروستیو کلونو کې د خپل کرنیز صنعت د انساني مرستندویانو رول دوه سلنه کم کړی دی، خو په هند کې لا هم ۵۰ سلنه خلک پر کرنه بوخت دي.

په کرنه کې د انساني رول د کم رنګه کېدو لوی دلیل دا دی، چې د دغه صنعت د ماشیني کېدو لګښت د انساني رول په پرتله ډېر ارزانه دی. د ماشینرۍ ترڅنګ د مصنوعي انسانانو یانې روباټونو رول هم هغه څه دي، چې په کرنیزو فعالیتونو کې انساني رول کمرنګوي او محدودوي یې.

په وروستیو کې جاپان داسې یو روباټ



نندارې ته وړاندې کړ، چې د غواګانو د غوجلې چارې مخته وړی شي.

**د کارخونو کارګران**

په جاپان کې وروستي ارقام ښيي چې کارخونې له هرو سلوزرو انساني کارګرانو سره ۱۵۰۰ روباټ یا مصنوعي انسانان هم پر دندو ګوماري.

مصنوعي انسانانو ته کارخونې په دغه اساس ډېرې لېواله دي، چې چټک، دقیق او بې جنجاله کار ورته کوي.

پر جاپان سربېره ډېر نور صنعتي هېوادونه هم له مصنوعي انسانانو سره کارکولو ته ډېره ترجبح ورکوي.

**خبریالان**

اسوشیېټېډپرېس خبري اژانس د کال په هر موسم کې تر دریو زرو زیات اقتصادي راپورونه د خپلې ټکنالوژۍ په وسیله تولیدوي.

د دې ترڅنګ د ویکیپېډیا د ټولو تولیداتو ۸.۵ سلنه د روباټونو په وسیله تولیدیږي.

سربېره پردې د ټکنالوژۍ ودې ډېرو رسنیو ته د دې موقع برابره کړې، چې بېړني خبرونه د خپلو مخاطبینو یا خبري سرچینو په مستقیمه همکارۍ ترلاسه کړي.

په دې مانا چې اوس دا اړتیا کمه ده، چې رسنۍ په هره سیمه کې ځانګړي خبریالان ولري. دوی د دې پرځای کولای شي په خپلو مرکزي دفترونو کې د یوه یا څو همغږي کوونکو په مرسته د ډېرو سیمو خبرونه ترلاسه او خپاره کړي.

رسنۍ اوس د خبریالانو پرځای شنونکو ته ډېره اړتیا لري. دوی په راتلونکي کې هم زیات تمرکز د خبرټولوونکو خبریالانو پرځای پر هغو خبریالانو کوي، چې د شننو، تحقیق او نورو تخصصي وړتیاوو لرونکي وي.

په دې توګه د خبر ټولوونکو او په عامه اصطلاح عادي خبریالانو راتلونکی ښه نه دی.

**معلمي**

د ټکنالوژۍ ودې د زده کړو په برخه کې هم ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې. اوس وخت ډېرې لنډمهاله زده کړې، چې پخوا ورته خلکو ښوونکي نیول، په انلاین ډول د یوټیوب له لارې زده کېدای شي. سربېره پردې، رسمي انلاین زده کړې هم اسانه شوې او پراخه شوې دي.

ډېر نړیوال پوهنتونونه اوسمهال په انلاین ډول خپل محصلین له چمتو شویو روزنیزو پکېجونو څخه برخمنوي او دا کار به په راتلونکي کې لا چټک شي. دغه وضعیت په چټک ډول په روزنیزه برخه کې انساني رول یانې د ښوونکو نقش کمرنګه کوي.

**روغتیایي کارکوونکي**

په طبابت کې هم ورځ تربلې د ټکنالوژۍ ونډه زیاتېږي. دغه ونډه د انساني نقش د کمرنګه کېدو سبب کېږي او په دغه ډګر کې د مرستندویو کارکوونکو شمېر کموي.

**وکیلان او حقوقي کارپوهان**

د ټکنالوژۍ وده د دې لامل کېږي، چې په عدلي او قضایي برخو کې هم سهولتونه زیات او د شخړو د حل او فصل او ثابتولو لپاره د مدافع وکیلانو او حقوقي کارپوهانو نقش کمرنګه شي. ټکنالوژي د دوی هغه هڅې، چې د اطلاع موندنې لپاره یې کوي، کم ارزښته کوي.

**منشیان یا حسابداران**

پخوا به زیاتو کاروباریانو منشیان یا حسابداران لرل. اوسمهال د حسابدارۍ ماشینونه او نور امکانات زیات شوي او لا نور به زیات شي. دغه وضعیت د منشیانو یا حسابدارانو په حیث، د انسانانو کاري فرصت کم کړی او لا نور به یې کم کړي.

**ډرېوري**

ډرېوري یا موټرچلونه تر ډېره د یوه کسب په توګه پېژندل کېده، خو اوس هر څوک تقریباً هڅه کوي چې خپله موټر چلول زده کړي. دغه وضعیت د یوه کسب یا کار په توګه د ډرېورۍ د نابودۍ سبب کېږي.

## د پاکستان سفیر: د هند غچ اخیستل به پر افغان سوله هم اغېز وکړي

په افغانستان کې د پاکستان سفیر زاهد نصرالله خان ویلي، که هند د پلوامه برید په غبرګون کې پر پاکستان برید وکړي، دغه برید به د افغانستان د سولې پر بهیر هم اغېز وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې پنجشنبې په ورځ د هند تر ولکې لاندې د کشمیر په پلوامه سیمه کې ځانمرګي برید، د هند د نیمه پوځ ۴۱ سرتېري ووژل چې په دغه هېواد کې یې پراخ غبرګونونه راوپارول.

د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي تر دغه برید وروسته، خبرداری ورکړی چې دغه



خونړي برید ته به سخت ځواب ورکړي.

په افغانستان کې د پاکستان د سفیر دغه څرګندونې په داسې حال کې دي، چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره په سیمه ییزه او نړیواله کچه هڅې پیل شوې دي، چې په ترڅ کې یې طالب او امریکایي پلاوو څو ځله په قطر کې مخامخ لیدنې درلودې او ټاکل شوې چې

د دغو ناستو په لړ کې دواړې خواوې د روانې فبرورۍ په ۲۵مه، په قطر کې بیا سره ووینې.

تر دې وړاندې ټاکل شوې وه چې د روانې دوشنبې په ورځ په پاکستان کې طالب استازي د دغه هېواد د چارواکو په ګډون، له امریکایي پلاوي سره کتلي وی، خو د بېلابېلو دلایلو له کبله دغه ناسته لغوه شوه. طالبانو رسنیو ته د یوې اعلامیې په رالېږلو سره ویلي وو، چې په تور لېست کې د دوی د استازو د شتون له کبله دوی ونه توانېدل، چې په یاده غونډه کې ګډون وکړي.

## صالح: د کابل له ګډون پرته د سولې هر ډول خبرې پایله نه لري

راتلونکو ولسمشریز ټاکنو ته د ولسمشر غني لومړي مرستیال امرالله صالح ویلي، چې د کابل له ونډې پرته، د افغانستان د راتلونکي په اړه هر ډول تصمیم به ناکام وي.

نوموړي زیاته کړې چې له هېواده بهر او د کابل له حضور پرته به دا خبرې یوازې فکري تمرین وي.

صالح د ترکیې له RTA ټلویزیون سره په مرکه کې ویلي، افغانستان به بیا په نه اداره کېدونکي هېواد بدل نه شي. هغه ټینګار کړی چې د سولې په خبرو کې د کابل ګډون مهم او له دې پرته به دغه خبرې پایله ونه لري.

نوموړي په دې اړه ویلي: «که دا خبرې د



کابل له طریقه پرمخ ولاړې نه شي، تل به فکري تمرینات وي. موږ د هېواد واګې په واک کې لرو، ښارونه مو په لاس کې دي، مشروعیت د خلکو په اراده کې ریښې لري، موږ انتخابات لرل او په راتلونکي کې به یې هم ولرو، موږ یو فکټور یو.»

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د پاکستان سفیر زاهد نصرالله ویلي، چې پاکستان د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو په پیل کې رغنده ونډه لرلې ده.

هغه په دې اړه زیاته کړې: «پاکستان د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرو په پیلولو کې حیاتي رول لوبولای دی، لومړی پړاو یې په ابوظبي او نور پړاوونه یې په دوحه کې ترسره شوي، موږ تل ویلي چې یو باثباته او سوله ییز افغانستان د پاکستان په ګټه دی.»

په داسې حال کې چې طالبانو له افغان حکومت سره لیدنه رد کړې، خو صالح ویلي: «دوی یعنې طالبان هڅه کوي چې ځانونه له تمدن، همپالنې او نوي افغانستانه بېل وساتي، ځکه دوی وېره لري چې په ولسواکه او څو ګوندي ټولنه کې چې نن یې افغانستان لري، طالبان به په هغو ملایانو بدل شي چې له مړینې وروسته وعظ کوي.»

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٥٠ |
| € | ۸٤,٦٠ |
| Rp. | ٥۳۳ |
| ₹ | ۱۰٥۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹٥,٥۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د کب لومړی | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۰مه | دویم کال |۳۳۸مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۵ | ۱۲ | ۵ | ۹ | ۵ |
| -۵ | -۳ | ۱ | -۱ | ۵ | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۶ | لمر ختل ۰۶:۴۸ | ماسپښین ۱۲:۲۴ | مازیګر ۰٤:۲۱ | ماښام ۰۶:۰۰ | ماخوستن ۰۷:۲۲

## نړۍ



# پاکستان د هند د احتمالي برید په اړه له ملګرو ملتونو د مرستې غوښتنه کړې ده

۳

## ملګري ملتونه: د جګړې ښکېلې خواوې دې ژر تر ژره له حدیدې ووځي



ملګرو ملتونو ویلي، دوی هیله من دي چې د یمن د جګړې ښکېلې خواوې به ژر تر ژره هغه هوکړه لیک عملي کړي، چې له مخې یې باید د حدیدې او دوو نورو کوچنیو بندرونو څخه او دغه راز د ملګرو ملتونو له یوې ودانۍ څخه خپل ځواکونه وباسي.

د ملګرو ملتونو په دغه ودانۍ کې دومره غله دانه ساتل کېږي چې د یوې میاشتې لپاره ۳،۷ میلیونو کسانو د تغذیې لپاره کافي ده.

د ملګرو ملتونو مرستیال ویاند فرهان حق خبریالانو ته ویلي، چې په حدیده کې د دغه اقدام پلي کول مهم دي؛ ځکه چې د ده په خبره، له دغه ځایه د یمن ۷۰ سلنه واردات تنظیمېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د یمن جګړه په ۲۰۱۴ ز کال کې وروسته له هغې پیل شوه، چې ایران پلوه حوثي شیعه یاغیانو د یمن پلازمېنه صنعا ونیوله.

تر دې مهاله د حکومتي ځواکونو او حوثي یاغیانو ترمنځ په جګړه کې زرګونه ملکیان وژل شوي او په دغه هېواد کې یې تر ټولو ناوړه انساني ناورین رامنځته کړی دی.

د یادونې ده چې د جګړې دواړو لورو د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د رواني یکشنبې په ورځ، د ځواکونو د ایستلو پر لومړي پړاو هوکړه وکړه.

## د امریکا د شپاړسو ایالتونو ائتلاف پر ولسمشر ټرمپ دعوه کوي



د کلیفورنیا په مشرۍ د امریکا شپاړس ایالتي ائتلاف د دغه هېواد پر ولسمشر ډونالډ ټرمپ د مکسیکو له پولې سره د دېوال جوړولو په خاطر، د پیسو ټولولو لپاره د بېړنیو حالاتو د اعلان پر سر دعوه کوي.

د دغه ائتلاف دا دعوه د کلیفورنیا د شمالي ولسوالۍ په محکمه کې د دوشنبې په ورځ ثبت شوې ده. دغه دعوه وروسته له هغه شوې چې ولسمشر ټرمپ د کانګرېس تر پرېکړې تېر شو او په هېواد کې یې بېړنی حالت اعلان کړ.

کانګرېس د ټرمپ هغه غوښتنه رد کړې وه، چې له مکسیکو سره د دېوال جوړولو لپاره دې ۵،۷ میلیارده ډالره ورکړي.

د متحده ایالتونو په سنا جرګه کې ډیموکراټانو ژمنه کړې وه چې د دې غوښتنې مخه به نیسي.

د کلیفورنیا لوی څارنوال هاویېر بیسیرا په یوه اعلامیه کې ویلي، چې دوی ټرمپ محکمې ته بیایي، څو یې د ولسمشرۍ د واک له ناوړې ګټې اخیستنې راوګرځوي.

د کلیفورنیا ترڅنګ په دې دعوه کې د کولرادو، کنکټکټ، ډیلاویېر، هواي، ایلانوی، مېن، ماریلنډ، مشیګان، منیسوټا، نواډا، نیوجرسي، نیو مکسیکو، نیویارک، اوریګان او ورجینیا ایالتونو لوی څارنوالان شامل دي. د دغو ټولو ایالتونو لوی څارنوالان ډموکراتان دي.

له مکسیکو سره پر ګډه پوله د دېوال جوړول، له افغانستان او سوریې د امریکایي ځواکونو ایستل او داسې نور هغه مهم مسایل دي، چې په دې وروستیو کې یې د ټرمپ او د دغه هېواد په سنا کې د ډیموکراټانو ترمنځ اړیکې تر بل هر وخت ډېرې ترینګلې کړې دي.

## حزب ملت متحد افغانستان:
# آرای کابل باطل است و بررسی مجدد آن غیر قانونیست



برخی نماینده‌گان احزاب سیاسی و نهادهای جامعه مدنی افغانستان می‌گویند، هیچ نوع کمیته و یا کمیسیون صلاحیت بررسی دوبارۀ آرای انتخابات ولسی جرگۀ کابل را نداشته و این آرا باطل می‌باشد.

آنان دیروز در یک نشست خبری در کابل گفتند، هر کمیتۀ که بخاطر بررسی این آرا تشکیل گردد، خلاف قانون است.

سیدبشیر بشرمل رئیس دارالانشای حزب ملت متحد افغانستان گفته است: «مطابق بند پنجم قانون انتخابات، آرای کابل ابطال شد و احتمال دارد که آن‌ها مطابق قانون جدید انتخابات یک کمیته را بخاطر بررسی آرای کابل تعیین کنند و ما می‌گویم قانون که توشیح می‌شود به ما قبل رجعت نمی‌کند، فیصله کابل مطابق قانون قبلی انتخابات شده و حکومت نمی‌تواند مطابق قانون جدید که تعدیل شده، فیصله ابطال آرای کابل را لغوه اعلان کند و مطابق قانون جدید آرای کابل را بررسی کند.»

آقای بشرمل هم‌چنان از عزل کمیشنران کمیسیون‌های انتخاباتی استقبال کرده، اما گفت که هر دو کمیسیون توانایی بررسی آرای کابل را نداشته و آرای کابل ابطال شده و نیاز به بررسی ندارد.

به‌گفته آقای بشرمل، هنوز هم شماری از کارمندان بخش‌های عملیاتی کمیسیون‌های انتخاباتی که زمینه‌ساز تقلب در انتخابات بودند، برکنار نشده‌اند و باید هرچه زودتر آنان از سمت‌های شان برکنار و به ارگان‌های عدلی و قضایی معرفی شوند.

در عین حال عبدالغفار وفا یک تن از اعضای جامعه مدنی در این نشست گفت، روند تفتیش آرای کابل برای بار سوم برای ناظرین، احزاب سیاسی و نهادهای جامعه مدنی پذیرفتنی نیست.

اما حبیب‌الرحمن ننگ می‌گوید، اعضای جدید کمیسیون‌های انتخاباتی که قرار است تعیین شوند، باید با بی‌طرفی کامل آرای کابل را بررسی و نتایجی را اعلان کنند که برای مردم و نامزدان انتخابات قابل قبول باشد.


## ژوند

## هواوې د خپل امنیت لپاره ۲ میلیارده ډالره لګوي




د هواوې شرکت د کاناډا د برخې رییس ویلي، د دې لپاره چې تولیدي توکي یې، نور هم امن او خلک وکولی شي له دې هم ډېر باور پرې وکړي، د خپلو توکو د امنیت د خوندیتابه لپاره یې دوه میلیارده ډالره ځانګړي کړي دي. نوموړی وایي، دا دوه میلیارده ډالره به یوازې د سافټویر جوړولو د انجنیرانو پر ګومارلو ولګوي. د هواوې د کاناډا د برخې مشر اریک لي (Eric Lee) وایي، د خپلو توکو امنیت او د ټکنالوژۍ هغه شبکې چې د دوی توکي ور سره تړلي دي، بې نقصه کېدل یې د دوی لپاره لومړیتوب دی. په کاناډا کې د دغه شرکت ویاند ویلي، چې له دوی سره د کاناډا په برخه کې یوازې پنځه سوه کسان د سافټویر د خوندي تابه په برخه کې کار کوي او مرکزي څانګه کومه چې د چین په شنزن ښار کې ده، د دوی له دې وړاندیز څخه هر کلی کړی. د دغه شرکت مرکزي څانګې هم ویلي، د تولیدي توکو امنیت به یې تر هغه کچې خوندي کړي، چې هېڅ پېردونکی یې ان په یوه برخه کې هم شکایت ونه کړي او له هره اړخه به خوندي توکي خپلو مشتریانو ته وړاندې کړي.

## ژمی او د کب د غوښې ګټې



امریکایي پوهانو په وروستیو څېړنو کې ثابته کړې چې امګا ۳ له ډېرو نورو ښېګڼو سره سره، د سټړیا په له منځه وړلو کې هم اغېزناک تمامېږي.

دوی وایي، هغه کسان چې ډېر کله د سټړیا احساس کوي، کولای شي چې غوړ اسیدونه چې په امګا ۳ یادېږي، د هغو له ډلې یو یې EPA ایکوزاپنتاتنوئیک اسید دی، وکاروي او ګټه ترې واخلي.

د امګا غوړ اسیدونه چې د EPA لرونکي وي په کبانو، د کبانو په غوړو او دغه راز په هګیو کې په زیاته اندازه موندل کېږي. د امریکا متحده ایالاتونو په جورجیا کې د امروي پوهنتون څېړونکو په دې وروستیو کې پر هغو ۱۵۵ کسانو څېړنه کړې، چې بې له کوم سببه یې د سټړیا احساس کاوه. په څېړنه کې په ګوته شوې چې د کب غوښه او غوړ او دغه راز د هګیو خوړل، د سټړیا په له منځه وړلو کې اغېزناک تمامېږي.

دوی دغه راز دا هم روښانه کړې چې کوم ډول اسیدونه په ځانګړې توګه د سټړیا د له منځه وړو لپاره ګټور تمامېږي.

دوی په داوطلبانه ډول دغو کسانو ته د اتو اونیو لپاره هره ورځ دوه کپسوله چې په خپل ترکیب کې یې امګا ۳ چې د EPA لرونکي دي او ځینو نورو ته یې ځلور کپسوله چې د امګا ۳ او DHA یا دوکزاهګراتنوییک اسیدو ترکیب لرونکي وو، ورکړل.